ژباړن: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ٢٠١٣/٠٢/١٥

# ا یران کې د واک شخړه په ژوندی بڼه
## د راډیو له لارې خپره شوه

سرچینه: فرانکفورته الګمینه څیتونګ

اوس داحمدي نژاد او دده د ګوتنیوونکو ترمنځ د خولې شخړې او سیاسي سیالي په عامه توګه بهرته راووتلې. تر اوسه قاعده داسي وه، سیاسي اختلافونه او سیالیو ته اجازه وه چې یواځې د ترلو دړو یا دروازو او پردو تر شا تر سره شي. د راډیو له لارې په ژوندی بڼه د سیاسي کړکیچونو خپریدلو سره اوس دغه قاعده بدله شوه.



د شخړو او لانجو هیواد ایران، ولسمشر محمود احمدي نژاد
او د ولسي جرګې مشر علی لاریجاني

تراوسه د شیعه دولت په ٣۴ کلن تاریخ کې د خولې یوه داسي خپلمنځي سیاسي شخړه لیدل شوي نه وه. عامو خلکود سړک پرسر ویلو چې د ولسي جرګې مشر لاریجاني پر ولسمشر لفظي بریداوسپک کړي دی چې دی دې خوله وتړي او دی دې نور ورک شي.

دا خبرې د اسلامي انقلاب د څلوردیرشمي کلیزې څخه دوه ورځې مخکې رابرسیره شوي.
که څه هم علی لاریجاني په مستقیم ډول داسي نه دي ویلي، خو پیغام یې ښه جوت او څرګند و، تاسوهیڅ حق نه لري په دې برخه کې نوره خبرې وکړي، تاسو د یو ولسمشر د کچې څخه ډیرې ټیټي خبرې وکړې. هیله کوم، هیله کوم چې ولاړشۍ، په مخه مو ښه.
ولسمشر محمود احمدي نژاد ته بله لاره پاتي نه شوه، دی چوپه خوله او غلي د پارلمان څخه په تیښته بریالي شو.
د ایران ولسي جرګې د جنوري په دریمه نیټه یوځلې بیا د احمدي نژاد یوبل وزیر د استیضاح لپاره ولسي جرګې ته ورغوښتوو، احمدي نژاد د وزیرانو د استیضاح سره ښه بلد دی، دی د دې پر ځای چې د خپل وزیر څخه دتل پشان دفاع وکړي، دی ولسي جرګه پړه او ګرمه بولي، دی وایي چې ولسي جرګې د ده دحکومت ټولې چارې سپوټاژ وي. سربیره پردې ده ولسي جرګې ته یوه ویډیو وربښکاره کړه، ده په دغه پټه ثبت شوي ویډیو کې هڅه وکړه چې دولسي جرګې مشر علی لاریجاني د ورور د نا قانونه کړو وړو څخه پرده پورته کړي.
له همدې امله لاریجاني احمدي نژاد ته ډیر قهر جن کیږي، دی هڅي هم له ډیر پخوا څخه د ولسمشر له پیژندل شویو سیالانواو ګوتنیوونکو څخه ګڼل کیږي. لاریجاني احمدي نژاد یي په ،، مافیایي میتودونو،، باندې تورن کړو. دی زیاتوي، احمدي نژاد دیو ولسمشر له کچې څخه ډیر ټیټ عملونه ترسره کوي. د دې سربیره دی وایي چې احمدي نژاد د ولسمشري د دندی لیاقت او اخلاق هم نه لري. دی بیا زیاتوي څنګه چې زموږ ولس نن سبا له دومره سترو کړونو اوکړکیچونو سره مخامخ او کړیږي، یولامل یي همدغه ولسمشر دی.
دا ټولي خبرې دترلو دړو تر شا نه دي تر سره شوي بلکې په میلیونونوایرانیانو دغه نندریزه لفظي شخړه د راډیو له لارې په ژوندی بڼه اوریدله. په ایراني ټولنه کې دواک پرسره شخړې اومبارزې تل یوه جوته پټه خبر وه. دغه شخړې په دغه کچه باندې پیلدل، دا ښيي چې د لوبې د ټولو لوبغاړو اعصاب یي هک پک اوحیران کړي دي. یو ایراني خبریال وایي.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له همدې شخړو سره جوخت ډیر ناوخته دایرانیانو مشر آیت الله علی خامنه ای دوی دواړو ته ددې ګواښ وکړو چې د داسي شخړو په پیلولو سره تاسو د لویدیځ په لاسونو کې لوبې کوی.
د واک پرسر دجګړواو مبارزو پراخیدلویو لامل په هیواد کې داقتصادي رکود او اقتصادي ستونزې دي. اصلاً دا اقتصادي ستونزې د اټومي پروګرام دنړیوالې شخړي له امله دلګول شویو بندیزونو سره تړو لري.
دغه هیواد اټکل له یو کال څخه په ډیر ژور اقتصادي کړکیچ کې راګیردی. ایراني رژیم هڅه کوي خلکو ته اقتصادي وضیعت سم وښیي.
دایراني کرانسۍ ریال بیه دیو دم راولویدلو سره حالات نوره هم کړکیچن شوي دي. د تیر کال په پرتله ریال د امریکایي ډالرو په پرتله ۵۵ سلنۍ خپل ارزښت له لاسه وکړي دی. د ولسي جرګې غړي او د مالي برخې مسوول احمدتووکلي وايي. دی د احمدي نژاد دمخ په غوړیدلي اقتصادي احصائیه په کلکه ردوي.
ګوتنیوونکې احمدي نژاد د هیواد په ټولو کړکیچنو برخو کې ګرم او ناکام بولي.
څنګه چې دی په ۲۰۰۵ کال کې دخپلي دندی په پیل کې د غلواو غریبانو بادشا یا ،، رابین هووډ،، په نامه یادیده، ده دخپلو اقتصادي ریفورمونو سره لاره دبي کچې انفلاسیون یا د پیسو پړسوب ته هواره کړه. له همدي سره غریبان نوره هم غریب او بیوځلې شول.
ایراني ولس د حکومت داټومي پراګرام په بدل کې پرته له بندیزونو او سیاسي انزوا څخه نور څه ونه لیدل. کله چې ولس په جیب کې یوه روپۍو نه لري. همداسي دایرانیانوسره پوځ او د هوانوردي تکنالوجۍ هم هیچ مرسته نشي کولاي.
دغه هیواد د اقتصادي بندیزونو په وجهه د لویدیځ سره بانکې اړیکې هم نه لري، ترڅو سوداګریزه تړونونه ورسره لاسلیک کړي. دغه هیواد ان په اسلامي او عربي نړۍ کې دومره ملګرې نه لري لکه چې دښمنانان لري. څکه دغه هیواد د سوریه له رژیم سره مرسته کوي.
اټومي انرجي، توغندې او بې پیلوټه یا د درونې الوتکې ښکلي او ښې دي. بیزو فضا ته لیږل هم او. کی. دي. دا ټولي خبرې به یوې خواته پریږدو اوس د ی په خپله غواړي چې د بیزو په ځای فضانورد شي.
احمدي نژاد باید تر دې مخکې خپل ولس ته یو څه وکړي او فضا ته دختلي انفلاسیون یا د پیسو پړسوب په وړاندې دې یو څه وکړي. یو سیاستپوه له تهران څخه د ټیلفون پر لیکه وویل.
د ولسمشر ګوتنیوونکې یو پرابلم لري: نه پوهیږي چې دوی څه شي بل ډول کولي شي او څه باید وکړي؟
د اټومي پروګرام دګټې اخیستني واک اواختیار اخیستل ناشوني دی، څکه اساسي قانون په دې برخه کې د ورستي پریکړي صلایت خامنه ای ته په لاس کې ورکړي دی.
پرته له د اټومي پروګرام د ګټې اخیستني واک ورکولو څخه د بندیزونو لیري کول ناشوني دي. که اقتصاد همداسي مخ په خرابیدو ولاړ شي. خلک به د ریالونو څخه ډک بکس د سړک پر سر غله او چور کړي، پیسې به پر ځای پریږدي او یواځې بکس به له ځانه سره یوسي. یو بل ایراني سیاستپوه وویل.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ